PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت خلورم کال، ۳۰ مه ګڼه، پرله پسې ۱۸۱ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د لړم ۲۴ مه د۱۴۳۳ هـ ق د ذوالحجې ۲۹ مه د۲۰۱۲ م د نوامبر ۱۴ مه

درس قرآن

دا د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لویې او فساد هڅې نه کوي. او آخرنې برې د پرهیزګارانو پـه برخه دی. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به یې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدۍ سره راشي نو بدکارو ته یوازې دهـغـوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایـمـان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنـودی الله بـاشـد. سوم اینکه: برگشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناگوار باشد». (صحیح بخاری)

حقاني شبکه د طالبانو په مشرۍ د سولې خبرې کوي

د حقاني ډلې دې قوماندان په داسې وخت کې د مشروطې سولې مساله یاده کړې او نرمښت یې ښوولي، چې دې ډلې ته خبرداري ورکړل شوي دي، چې د لویدیځو ځواکونو فشار به پرې زیات شي

کابل، رسنۍ:
حقاني شبکه چې په افغانستان کې تر ټولو خطرناکه شبکه ګڼل کیږي، له امریکا سره یې په یوه شرط د سولې خبرو ته چمتوالي څرګند کړی دي.
د حقاني شبکې د یوه جیګوړي قوماندان په وینا رویټرز اژانس څرګندوي، چې له واشنګټن سره د سولې خبرې د طالبانو په مشرۍ ترسره کیداي شي.
د حقاني ډلې دې قوماندان په داسې وخت کې د مشروطې سولې مساله یاده کړې او نرمښت یې ښوولي، چې دې ډلې ته خبرداري ورکړل شوي دي، چې د لویدیځو ځواکونو فشار به پرې زیات شي.
دوې میاشتې مخکې امریکا حقاني شبکه په تور لست کې شامله کړه او تیره اونۍ د ملګرو ملتو امنیت شورا پر دې شبکې بندیزونه ولګول.
حقاني شبکه چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ په قبایلي سیمه

پاتې ۴ مخ

دلاوری:

به زودی تمام جایداد های کابل بانک در شهر دوبی لیلام می شوند

کابل، رسانه ها:
مسوولان دافغانستان بانک می گویند، به زودی تمام جایداد های کابل بانک در شهر دوبی لیلام خواهند شد.
دافغانستان بانک در حالی تصمیم گرفته تا تمام جایداد های کابل بانک را در شهردوبی به زودی به لیلام بگذارد که حدود ده روز پیش رییس جمهور کرزی دستور داد تا جایداد های این بانک در داخل و خارج از کشور باید تا یک ماه دیگر به فروش برسند.
گفته می شود فروش این جایداد ها مقداری کمی، از بیش از نه صد ملیون دالر را که از این بانک به طور غیر قانونی بیرون شده، جبران خواهد کرد.
نورالله دلاوری به روز سه شنبه در یک نشست خبری گفت که تمام جایداد های کابل بانک در دوبی تا سه هفته دیگر توسط

بقیه در صفحه ۴

ایران ته تلونکو افغانانو ته په کابل کې د ایران سفارت ستونزې جوړوي

د ایران سفارت له خوا افغانانو ته د ویزې ورکولو پر مهال له هغوی نه د ایراني هوایي شرکت ټکټ غواړي

د ایران دا ډول کړنې په هېواد کې د هوانوردۍ د قوانینو او اصولو پر خلاف عمل دی

کابل، رسنۍ:
د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت په کابل کې د ایران سفارت له خوا افغانانو ته د ویزې ورکولو پر مهال له هغوي نه د ایراني هوایي شرکت د ټکټ غوښتنې مسله د وزیرانو له شورا سره شریکه کړې ده.
د دې وزارت چارواکي وایي، چې دا مسله جدي ده او د دوی په وینا په کابل کې د ایران سفارت باید په افغانانو زور رانه ولي، چې حتماً ایران ته د تګ ټکټ له ایراني هوایي شرکت نه واخلي.

پاتې ۴ مخ

پلویان مې باید د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته د هیواد دفاع وکړي

کابل، رسنۍ:
په وروستیو کې پخواني ځواکمن جهادي قوماندان، د اوبو او بریښنا وزیر محمد اسمعیل پر خپلو پلویانو ږغ وکړ، چې د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته د هېواد د دفاع لپاره، د وسله والو طالبانو په ضد ودریږي.
نیویارک ټایمز ورځپانه وایي، چې په یوه ستره غونډه کې د محمد اسمعیل دا څرګندونې پر افغان حکومت او د غربیانو په مرسته پر روزل شوي ملي اردو، موجود اعتماد تر پوښتنې لاندې کوي.
د افغانستان د اوبو او بریښنا وزیر محمد اسمعیل له دې اعلان سره، چې خپل پلویان به بیا تنظیم کړي، افغان چارواکو ته اندیښنې پیدا کړي.
په خلکو کې دا ویره پیدا شوې، چې د نورو سیمو او ډلو مشران به همدا پل واخلي او خلک به مسلح کړي، چې د مرکزي حکومت ملاتړ کمزوری کولای او د کورنۍ جګړې د پیښیدلو امکان زیاتولای شي.
محمد اسمعیل څو ورځې مخکې خپل سل هاوو پلویان د هرات ښار څخه د باندې د لاریون لپاره راغونډ کړل، پر ټولو یې ږغ وکړ، چې یولاس او بیا منسجم شي.

پاتې ۴ مخ

عکس العمل مشرانو جرگه در مورد حضور دو خارجی در کمسیون شکایات انتخاباتی

کابل، رسانه ها:
شماری اعضای مشرانو جرگه مانند رییس جمهور کرزی با حضور دو خارجی در کمسیون سمع شکایات انتخاباتی مخالفت کردند.
این سناتوران به روز سه شنبه روی طرح قانون صلاحیت و تشکیلات کمسیون مستقل انتخابات بحث نمودند اما این بحث ها به نتیجهء نرسید.
این سناتوران، حضور دو عضو خارجی را مداخله به ارادهء مردم افغانستان خواندند.
بهادرشاه یوسفی یک تن از این سناتوران گفت:
"من حضور خارجی ها را در قانون انتخابات مداخله به ارادهء مردم افغانستان می دانم، هر

بقیه در صفحه ۴

منظم او غښتلی پوځ زموږ لومړنی ضرورت دی

محمد خلیل صفحه سوم

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی صفحه سوم

پاکستان دترهګرۍ او مخالفت په مرکز بدل شوی

لیکوال: سلیم صافي | ژباړه: عبدالله کامه وال

افغان ولس د هېواد د بربادۍ په اړه روس او امریکا دومره نه ګرموي څومره چې د پاکستان د ګڼلارو جوړونکي ګرموي

که پاکستاني طالبان د پاکستان آئین نه مني نو آیا افغاني طالبان د افغانستان اساسي قانون مني ؟

که له پاکستاني ولس نه وپوښتل شي چې دپاکستان تر ټولو مهمه مسئله کومه ده؟
نو ارو مرو به یې ځواب ترهګري او یا هم وسله وال مخالفین وي.
اوسمهال دپاکستان په ټګلاره کې تسلسل نه ترسترګو کیږې او یا هم کومه مربوطه ټګلاره ورسره نشته، د پاکستان او امریکا ترمنځ د اوبو د خړولو او په هغې کې د ماهیانو د نیولو خبره ده تر ټولو اهمه خبره پخپله امریکا ده.
امریکا پر پاکستان اعتبار نه لري او همدغه ډول پاکستان له امریکا له دوه ګوتې ورتیر دی، دا یولس کاله دوکه ورکړه که له پاکستان د ادارو له چلوونکو او د ټګلارو د جوړونکو څخه وپوښتل شي چې: آیا هغوې په افغانستان کې دامریکا بریا غواړي؟
نو ځواب به یې منفی وي چې هیڅکله نه دهغوې په اند که امریکا په افغانستان کې بریا ترلاسه کړی نوهغه به له پاکستان سره هم خپل حساب کتاب پیل کړي نو ځکه دافغان دولت دمخالفینو ملاتړ کوي

پاتې دویم مخ

د کورنیو چارو وزارت د عبدالحکیم شجاعي د نیولو حکم کړی

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د کورنیو چارو وزارت وایي، چې پولیسو ته یې د محلي قوماندان عبدالحکیم شجاعي د نیولو حکم کړی دی.
وروسته له دې، چې د یوه غیر مسوله وسله وال قوماندان عبدالحکیم شجاعي له ظلمونه څخه پرله پسې شکایتونه وشول، د کورنیو چارو وزارت پولیسو ته د دغه قوماندان د نیول حکم وکړ.
د کورنیو چارو وزیر جنرال مجتبی پتنګ د سې شنبې په ورځ د ولسي جرګې د شکایتونو د اوریدو کمیسیون په غونډه کې وویل، چې ډیر ژر به د ارزګان ولایت هغه سیمې تصفیه شي، چې شجاعي په کې فعالیت کوي.
مجتبی پتنګ وکیلانو ته ډاډ ورکړ، چې شجاعي به په نږدې راتلونکې کې ونیول شي او د قانون منګولو ته به وسپارل شي.
د ارزګان خلک ادعا کوي چې عبدالحکیم شجاعي د یوې اویا کسیزې وسله والې ډلې قوماندان دی او تراوسه یې په غزني،زابل او ارزګان ولایتونو کې ۱۲۱ بې ګناه کسان وژلي دي.
د ارزګان ولایت د خاص ارزګان ولسوالی لسګونه اوسیدونکي د شجاعي له ظلمونو

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

صلح و انتخابات آینده

افغانستان در شرایط که بطرف سال ۲۰۱۴ نزدیک می شود، که نیاز به صلح و آشتی ملی دارد، تا در فضای صلح و ثبات بتوانیم به یک انتخابات شفاف و عادلانه دست یابیم. از آنجائیکه صلح یک پروسه ملی و افغانی است، اعاده صلح و امنیت تنها وظیفه شورای عالی صلح نیست که این وظیفه خطیر ملی را تعقیب نماید. بل برای فرد فرد ملت افغانستان رسالت تاریخی و وجیبه ایمانی است که در این راستا گامهای مستحکم و متین را بردارند، و در این مرحله سرنوشت ساز که همهٔ افراد ملت مظلوم ما چشم امید به آینده انتخابات ریاست جمهوری دارند، لازم است همه با هم در زیر یک چتر ملی با وحدت و همآهنگی و بادرنظر داشت خواست های مشروع مردم افغانستان بخاطر استقلال، تمامیت ارضی و حاکمیت ملی افغانستان زعیم را انتخاب نمائیم که زخمهای ده هایی ویرانی ما را التیام ببخشد و شخص مسلمان، مجاهد، عادل و متهم به خیانت ملی نباشد و منافع ملی و مصالح علیای کشور را درنظر داشته باشد و منافع ملی را بر منافع شخصی ترجیح داده و بخاطر استحکام نظام الهی و حاکمیت قانون از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزد. و مسایل سمتی، زبانی و تنظیمی را مردود بشمارد، تا بالای آن همهٔ ملت اتفاق نماید که با خروج سربازان خارجی از افغانستان بتوانیم اتفاق، وحدت و همدلی و تفاهم ملی بین الافغانی با مشترکات تاریخی که با هم داریم و با استفاده از منابع سرشار طبیعی، اراضی حاصلخیز و صنایع مردمی بر همه نابسامانیهای اقتصادی، سیاسی و اجتماعی خویش نایل آئیم. برای برآورده شدن این مأمول تلاش خستگی ناپذیر همهٔ احزاب و گروه ها ضروری پنداشته می شود تا جریانات سیاسی مطرح با تحلیل اوضاع و شرایط کنونی و دههٔ آینده تحول در کشور عمیقاً در این عرصه توجه نمایند و پالیسی مشخص و سازنده را که دربرگیرنده منافع و مصالح و ارزش های دینی مردم ما باشد اتخاذ نماید، تا بتوانیم با دعوت کسانیکه امروز در مخالفت با نظام فعلی قرار دارند وحدت ملی و یکپارچگی و سلامت سرزمین ما را بیشتر استحکام ببخشیم و از توطئه و تخدعه در راستای یک انتخابات عادلانه و شفاف پرهیز نمائیم. و از هر نوع گرایش های فکری، سلیقوی و لسانی که صدمه بر وحدت و یکپارچگی ما وارد آورد و سبب ادامهٔ جنگ های تحمیلی و ویرانی وطن عزیز ما گردد، اباً ورزیده و مداخلات بیرونی را چه در سطح منطقوی و بین المللی آن با قاطعیت، فریاد رسا، با تأمل و تعمق، با شناسایی دشمنان وطن و با اتخاذ تدابیر خردمندانه پاسخ بگوئیم و مواصفات زعامت آینده کشور را که ممثل اراده واقعی مردم مسلمان ما باشد طوری تعیین نمائیم و به پای صندوق های رأی برویم که هویت اسلامی و ملی زعامت یکی از اوصاف برجسته تعیین زعیم آینده ما در نظر گرفته شود تا یک رئیس جمهور مسلمان و متعهد به آرمان شهدای این مرزو بوم را انتخاب نموده بتوانیم که با مشروعیت اصل انتخابات در نتیجه رأی اکثریت مردم افغانستان انتخاب گردد و در این انتخابات تا حد اعظمی تلاش صورت گیرد که از جعل، تقلب، دست اندازی اجانب و مسؤولین دولتی محفوظ بماند که از یکطرف اصل شمارش آراء در فضای شفاف مراعات گردد و از طرف دیگر قیادت صالح، سالم و مطابق اراده مردم بر نظام مملکت انتخاب گردد، که توانایی اداره کشور و حفاظت از ارزش های دینی و سنت های پسندیدهٔ مردم ما را داشته و در تأمین وحدت ملی، حاکمیت قانون و زدودن فساد اداری و اخلاقی دست بالا داشته باشد.

حزب اسلامی افغانستان با توجه به منافع مردم مسلمان افغانستان و با درک شرایط عینی جامعه ما خواستار حل مسالمت آمیز مشکلات دامنگیر وطن خویش بوده و برای برگذاری یک انتخابات شایسته، شفاف و عادلانه، اعاده صلح و ثبات و تأمین وحدت ملی را ضروری دانسته در این راه از هیچ نوع تلاش، تحرک و اتفاق احزاب، گروه ها و شخصیت های با نفوذ کشور دریغ نمی ورزد، تا خدا خواسته باشد ما در آینده شاهد یک افغانستان مستقل، آزاد، آباد و دارایی حاکمیت قانون باشیم.

پاکستان دترهگرۍ او مخالفت په مرکز بدل شوی

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

...څکه دولسمشر کرزي حکومت هم دپاکستان لپاره دمنلو وړنه دی خو داهم یو څرګند حقیقت دی چې پاکستان پدې تو انمندی نه شي کولایی له امریکا اوناټو هیوادوسره جګړه وکړي.

خوله بله پلوه پاکستان د کرزي د حکومت بریا هم نه غواړي او د پخوانیو طالبانو په څیر حکومت هم دخپل ځان لپاره خطرناکه ګڼي.

که د شخړې بل اړخ ته ځیر شو هرڅوک په خپل خپل ځاي د پاکستان څخه خفه بلکې غوصه ورته هم ښکاري.

که د افغان حکومت له چارواکو څخه د پاکستان د قربانیو په اړه وپوښتل شي نو هغوی په ځواب کې دا خبره کوي چې په کوم ډول پاکستان دوسله والو طالبانو په پټه مرسته کوي لدې ښکارې چې هرڅه هم دوی پخپله کوي، او طالبان د یوې الې په توګه استعمالوي.

افغان ولس نن په هیواد کې د بربادیو په اړه دومره روس او امریکا نه ګرموي څومره چې دپاکستان د تګلارو جوړونکي ګرموي، په افغانستان کې برژنیف او جارج بوش ته دومره ښیراوي نه کیږي څومره چې زمونږه څینو پخوانیو تقاعد شوو جنرالانو ته کیږي؟

او همدارنګه که له امریکایانو وپوښتل شي نو هغوی د خپلو ناکامیو پړه هم پر پاکستان وراچوي او د اسامه بن لادن دشتون، او د طالبانو دمشرانو په پاکستان کې پر موجودیت پر پاکستان د دومخی تګلارې (ډبل ګیم) تور پورې کوي؟

سم یا ناسم لیکن امریکایانو ته دا خبره یقیني شوي چې په افغانستان کې دهغوی د ماتې یواځینی لامل طالبانو سره د پاکستان ښکاره او پټې اړیکې دي.

سیاسي او نظامي څیړونکی په دې اند دي چې اوسمهال افغانستان نه بلکې پاکستان دنړیوالی ترهګرۍ او مخالفت په مرکز بدل شویدی.

امریکا په یاده معامله کې ځانله نه ده بلکې د هغې سره په یاد دریځ باندی برتانیه، فرانسه، او الماني هم په یوه موقف ولاړ دی، آن تردې چې روس او دنړۍ یو شمیر پرمختللی هیوادونو هم ورسره پدې دریځ کې همغږي دی او د امریکا سره څنګ په څنګ ولاړ دی.

امریکا او افغان دولت د طالبانو سره د اړیکو په درلودلو د پاکستان له دولته خفه دی نو آیا دریم اړخ (طالبان) د پاکستان څخه خوشاله دی؟ ددې ځواب هم منفي دی طالبان وایي چې په افغانستان کې دهغوی حکومت هم د پاکستان د بې وفایي له امله له لاسه ورکړ او د هغوی پرخلاف استعمال شوي وسله هم دپاکستان له پولې ورتیره شوي او د افغاني طالبانو په لسګونو مشران هم دپاکستان په زندانونو کې وراسته شول پاکستان نن دهغوی دښمن هم دی ولی چې د امریکا اتحادي شمیرل کیږي، امریکا هم دخپلې مجبورۍ له امله دپاکستان پرخلاف بیانونه نه ورکوي، اونه د پاکستان خلاف دځای طالبانو د کړنو په ښکاره ډول پلوی کوي، څکه هغوی هم یو شمېر مجبورۍ لري خو ددې هدف دا نه دی چې دامریکا په زړه کې پاکستان ته قهر او غصه نشته.

که داسې نه وای نو کونړ او نورستان هغه سیمې چې د هغوی د کنترول لاندې دي او د پاکستان په اند پاکستانی طالبانو هلته میشت دي امریکا ولې ځای ورکوي او یایې لړتر لړه په شتون پټه خوله دي؟

له بله پلوه څه موده وړاندې پاکستان له امریکا غوښتې ۇ چې افغان دولت او امریکا باید طالبانو ته په سیاسی ډګر کې ځای ورکړی، کله چې هغوې ته وویل شي چې هغوی باید طالبان خبرو ته کینوي، نو بیا یې بهانه وکړه چې طالبانو باندې د هغوی زور نه رسېږي، او جوړجاړي عمل باید د افغانانو له لورې د افغانانو سره ترسره شي.

په همدې ډول د افغانستان په داخل کې پاکستان امریکا او افغان دولت ته نصیحت کوي چې هغوې طالبانو سره شخړې د خبرولـه لارې حل کړی مګر کله چې په پاکستان کې د طالبانو سره دخبرو دلارې د مسئلې د حلولو وویل شي نوپه ځواب کې وایې چې پاکستانی طالبان د حکومت پرووړاندې یو ګواښ دی او ترڅو چې هغوی خپلې وسلې پر زمکه نه وي ایښې له هغوی سره د خبرو کولو امکان نشته دي دلته سوال دادی چې آیا د افغانستان په داخل کې طالبان د افغان حکومت پرووړاندې ګواښ نه دی.

یو بل دلیل هم ویل کیږي چې افغان طالبان دخپل هیواد دازادۍ لپاره له قابضو پوځونو سره جنګیږي، او پاکستانی طالبان خو په خپلو سیموکې د خپلی خوښی حکومت او د اسلامی شریعت احکام نافذول غواړي.

اوس سوال دا دی چې آیا په افغانستان کې افغان طالبان له خپلې پوهی له امله د شریعت نه غواړي او که هغوی ترې خبر نه دي؟

ویل کیږي چې پاکستانی طالبان د پاکستان اساسی قانون نه مني، نوآیا افغانی طالبان د افغانستان اسلامی قانون مني .

دا وخت پاکستان له پاکستانی طالبانو سره خبرو کولوته چمتونه دي، مګر کله چې نړیوال اوافغان حکومت دپاکستانی چارواکو څخه په شمالی وزیرستان کې د عملیاتو غوښتنه کوي نوله هغې څخه معذرت غواړي نو داسې ښکاري چې پاکستان نه په طاقت سره او نه هم د خبرو وړاندیز مني.

دا وخت په پاکستان کې د پاکستانی طالبانو له یادو تګلارو څخه کاراخیستل کیږي. بل سوال دا هم دی آیا پاکستانی طالبانو د پاکستان پر وړاندې کوم عکس العمل شته اوکنه ... حتماً شته نن هغوی له وړاندې څخه ډیر څواکمن فعال اوپه اتفاق سره لیدل کیږي.

د کراچۍ څخه تر اسلام اباده اود پیښور څخه نیولی ترکویټې ښآر پورې هر کله که په هرځای کې وغواړی عملیات ترسره کولای شي

پدې اړه د هغوې د مرکزي ویاند احسان الله احسان لخوا په یوه راستول شوي خط راته لیکل شوې په جیو نیوز د کامران خان په نوم یوه پروګرام کې مې ویلې ۇ چې نن دناټو د تداروکاتي لارو بندیدل د طالبانوسره د خبرو کولو ښه موقع ده چې په خواشینۍ سره پاکستان حکومت ترې کومه فائده اوچته نه کړای شوه، ددې په ځواب کې دهغوی ویاند په انګلیسي ژبه باندې یو ایمیل یا اینترنیتي لیک راستولای دي چې د هغې ژباړه تاسو ته ټکي په ټکي وایم چې د طالبانو د دریځ اوموقف باندې لوستونکي ښه وپوهیږي.

سلیم صافی صاحب : په ۹ جون باندې په یوه تلویزوني پروګرام کې ستاسو رایه دا وه چې طالبانوسره د خبرو کولو ښه موقع وه خو فایده ترې پورته نه کړای شوه، د طالبانو ویاند زیاتوی چې ستاسو رایه سمه وه اوښه پایله یې درلودلای شو خو زموږ ستره غوښتنه (دپاکستانی طالبان) داده چې دپاکستان او امریکاترمنځ مرسته او همکاری باید بنده شي.

صافی صیب دازموږ له مهمو غوښتنو څخه یوه غوښتنه ده زمونږ لومړۍ اواساسی غوښتنه له پاکستان څخه دسیکولراو دیموکرات حکومت خاتمه او پرځای یې د شریعت نافذول دي د شریعت له نفاذه وروسته له امریکا سره اړیکې پخپله پای ته رسیږي، ولی چې اسلام له کافرانو سره د دوستی څخه منع کړیده، او قران پدې اړه ښکاره لارښوونی کړي دي، امید دی چې زموږ په هدف او مرام پوهیدلې یاست اوپه راتلونکی د طالبانو دتحریک په اړه له تبصیري کولو وړاندې دغه خبرې په یاد وساتئ.

زما په فکر که په پاکستان کې دننه طالبان همداسې په قوت سره روان دي نو لرې نه ده چې دا د پاکستان لپاره هم یو درد سر شي.

خلص رهنمودهای طبی

آب آشامیدنی صحی

داکتر سجاد

آب یک ماده حیاتی است که ۳/۴ (سه بر چهار یا ۷۵٪) حصه بدن را تشکیل میدهد، زندگی بدون آب ناممکن بوده وکمبود آن حیات بشر را به خطر مواجه میسازد.

آب پاک و صحی:

آب صحی بی رنگ بی بو و بی ذایقه است که از هر گونه میکروب یا کثافت و دیگر مواد مضره پاک باشد. آب یک ماده حیاتی است و هر شخص بالغ روزانه به ۲ الی ۲.۵ لیتر آب ضرورت دارد. اکثریت امراض جهاز هضمی و دیگر انواع امراض از آب ناپاک بوجود می آید.

منابع آب پاک:

منابع آب پاک عبارت اند از: آب بمبه، نل، چاه های عمیق، نیمه عمیق، چشمه ها و کاریزها که بصورت درست از آنها نگهداری شده و بصورت منظم پاک کاری می شود.

مشکلات موجود و راه های حل:

کمبود آب صحی در سطح جهان یک تعداد زیاد مردم را متضرر ساخته و باعث بوجود آمدن امراض از قبیل اسهال، پیچش و کولرا می گردد. سالانه ملیونها نفر به اثر امراض ناشی از آب غیر صحی از بین میروند، آب دریاها و جویبارها آب های سطح زمین و باران ها غیر صحی بوده و قابل نوشیدن نمی باشند. به همین ترتیب باران های متواتر و ریزش سیلاب ها مشکلات زیادی را نیز بمیان میاورند مصرف چنین آب ها می تواند باعث امراض شود.

رهنمودهای پاک نمودن و پاک نگهداشتن آب:

در کشور ما افغانستان مشکلات از ناحیه کمبود منابع آب پاک وجود دارد که سالانه هزارها نفر به دلیل نوشیدن آب ناپاک تلف میشوند. در صورت نبود آب صحی باید آب دریاها، جویبارها و آبهای ایستاده جوش داده شود، در صورت مشکوک بودن محلول ۵ ، ۰ کلورین را در آب انداخته و آب صحی ساخته شود و سپس مصرف شود. سرچاه ها باید پوشانیده شده و اطراف آن سمنت شده و از ریزش آبهای کثیف به داخل چاه جلوگیری شود. وظیفه مردم است تا از منابع آب نگهداری خوب نموده و در پاک نگهداشتن آن سعی و کوشش نمایند. در این قسمت آگاهی های صحی نقش مهم داشته و وظیفه وزارت صحت عامه و مؤسسات صحی و کارکنان صحی جامعه نیز می باشد که پیامهای صحی را به مردم برسانند تا اهمیت آب صحی به همه روشن شود و به مناطقی که با کمبود آب صحی اشامیدنی روبرو هستند رسیدگی شود و مشکلات از ناحیه کمبود آب صحی آشامیدنی حل گردد. در ضمن هموطنان عزیز ما در پاک نگهداشتن آب که یک ماده حیاتی است تلاش کنند و از انداختن کثافات و مواد فضله در داخل جوی ها و دریاها و دیگر منابع آبی خودداری کنند.

منظم او غښتلي پوځ زموږ لومړنۍ ضرورت دی

محمد خلیل

د افغانستان د اتل ولس تاریخ ته په کتو باید په بشپړ جرئت ووېل شي چې د افغانستان وګړو د خپلې خاورې او عقیدې په ساتنه کې له بل هر چا زیات قربانۍ ورکړې او د هر یرغل ګر په وړاندې د اوسپنې نیني ثابت شوي دي، پرون هم افغانان د استقامت او شجاعت په ډګر کې له بل هر چا مخکې وو او سبا ته به هم مخکې وي.

افغان ولس پخپلو شاه زلمو وياړي چې پخپلو زړونو کې د سربښندنې او قربانۍ اوچته جذبه لري او پوره باورمند دي چې راتلونکي لپاره به هم د خپلې عقيدې او خاورې د ساتنې لپاره له هيڅ ډول سربښندنې دريغ ونه کړي.

ځينې بې همته او کم حوصله عناصر ويره ښکاره کوي چې له ۲۰۱۴ کال نه وروسته به چې بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي افغان پوځيان به د خپلو پولو په ساتلو کې بريالي نه شي او افغانستان به يو ځل بيا د خپلمنځيو جګړو په منګولو کې راګير شي، په دې واقعيت بايد سترګې پټې نه کړو چې که بالفرض افغان اردو د بهرنيو د يرغل په دفاع کې پاتې هم راشي نو ددې مسؤوليت به د افغان اردو په غاړه نه بلکې ددې هېواد د چارواکو په غاړه به وي ځکه چې اردو د جنګېدو لپاره مناسبو وسلو او مهماتو ته اړتيا لري او ددغو اړتياو پوره کول د حکومت مسؤوليت دی، د افغانستان اتلو او قهرمانو ځوانانو له خپل هېواد، ولس او عقيدې سره د مينې په ثبوت کې په پوځ کې د خدمت د ترسره کولو خپل ايماني او افغاني مسؤوليت ترسره کړی او هره ورځ ډلې ډلې ځوانان د افغانستان د اردو او پوليس په ليکو کې د شامليدو لپاره حاضر بېړي د افغانستان پوځ د شميرې له مخې کوم مشکل نه لري الحمدلله لکونه ځوانان حاضر دي چې پوځ کې شامل شي خو له بده مرغه د افغانستان چارواکي تر اوسه دهغوی په مسلح کولو کې پاتې راغلي دي داسې کومه وسله يې نه ده ورکړې چې د افغانستان پوځ ورته ضرورت لري، ځرګنده خبره ده چې په دې کې پوځ نه بلکې چارواکي ملامت دي چې هغوی خپل پوځ ته د وسلو په مهيا کولو کې په مطلق ډول پاتې راغلي دي، په افغانستان کې د يو مستحکم او باثباته حکومت پر جوړولو نه دي بريالې شوي او ايله خپل ځانونه او خپلې ګټې په ياد دي، پخپلو کې د يو بل دلاندې کولو او پرزولو په غم کې دي نه يې پوځ په ياد دی او نه هم دهغوی

لازمي اړتياوې. پوځ تيار او چمتو دی خو وسله ورسره نشته، حال دا چې د يو هېواد پوځ هله پخپل هېواد کې د امن او ثبات په راوستو بريالې کېږي چې په وسلو سنبال او مجهز وي.

په اوسني زمانه کې د پوځ شميرې ته دومره اهميت نه ورکول کېږي څومره چې وسلو ته ورکول کېږي خو له بده مرغه د افغانستان پوځ تراوسه سپکو وسلو ته هم لاس رسی نه لري.

له داسې يو پوځ نه چې تقريباً تش لاسې وي او د وسلو ضرورت يې په نظر کې نه وي نيول شوې له هغوی نه لويه تمه کول که ليونتوب نه دی نو څه دی؟ !

د خدای په خاطر د افغانستان اتل او بهادر فوځيان مه بدناموئ هغوی هر ډول سربښندنې او قربانۍ ته چمتو دي خو حکومتي چارواکو په وينو کې هغه ګرمي او حرارت نشته چې خپل پوځ په مناسبو او لازمو وسلو سنبال کړي.

موږ افغانان بايد دېته ښه ځير شو چې يو منظم او په مدرنو وسلو سنبال پوځ زموږ د استقلال، خاورې، عقيدې او ولس د دفاع لپاره تر ټولو مهم ضرورت دی، د يو هېواد د بقاء لپاره د يو منظم پوځ شتون دومره اړين دی څومره چې د يو بدن لپاره د روح ضرورت دی، څرنګه چې يو بدن له روح نه پرته ژوندی نه شي پاتې کيدلې همداسې د يو هېواد استقلال، امن، ثبات او استحکام هم له پوځ او پولس نه پرته نه شي ممکن کيدلې، څومره اهميت چې پوځ لري له هغه نه څو برابره زيات اهميت وسله هم لري، بې وسلې پوځ دهغه ټوپک او تمانچې په څير دی چې کارتوس ونه لري، که يو څوک د ټوپکو څومره لوی لوی ګودامونه هم ولري خو چې کارتوس ورسره ونه لري بيا د لرګيو ټالونه ترينه ښه دي. زموږ د افغان ولس او په ځانګړې ډول چارواکو مسؤوليت دا دی چې هسې تشو تبصرو او خبرو پر ځای عملي ګامونه اوچت کړي، خپل پوځ او پوليس په اړينو وسلو سنبال او مجهز کړي، پخپله نيمه ډوډۍ وخوري خو پوځ ته دې وسله واخلي، ځکه چې د هېواد او ناموس دفاع په تشو لافو او خبرو نه شي کيدلې، کوم هېوادونه چې له خپل استقلال او سرلوړې ژوند سره مينه لري هغوی د خپلو سرحدونو د دفاع لپاره غښتلي او منظم پوځ جوړ کړی او کلکه مينه ورسره لري.

که واقعاً موږ هم آزاد، خپلواک او سرلوړی افغانستان غواړو نو د پوځ او پوليس اړتياو ته به د خپل ژوند له نورو اړتياو نه لومړيتوب ورکوو او په داسې پرمختلليو وسلو به مجهز کوو چې د داخلي او بهرني دښمن عزائم له خاورو سره خاورې او د افغانستان امن، ثبات او استحکام يقيني کړي.

جوانان و جامعه مدنی

محمد خلیل

(به ادامۀ شماره گذشته)

... در زمان خلافت توجه زیاد خلفا به زنده گی جوانان بود، آنها را در مدارس تحت نظر کسانیکه از فیوضات صحبت پیامبر بهره مند بودند، تحت تعلیم و تربیه دینی قرار میدادند، حتی بیشتر از آن طوریکه از تاریخ خلافت می یابیم در وظایف مهم دفتری و لشکری میگماریدند، نمونه بارز از آن رهبری قشون بود که پیامبر صلی الله علیه وسلم حضرت اسامه بن زید (رض) را بصفت قوماندان لشکر به طرف شام تعین نموده بودند که در زمان خلافت حضرت ابوبکر صدیق (رض) شخص خلیفه در جمع مجاهدان قرار گرفتند که رهبری آنرا اسامه به عهده داشتند. حضرت عبدالله بن عباس (رض) که از نظر سن نسبت به سائر اصحاب پیامبر کم بودند در اکثر مجالس حضرت عمر فاروق (رض) حضور می یافتند، و بسیاری از فیصله ها به اساس مشوره او صادر میگردید. حضرت حسین (رض) جوان دیگری که در آغوش پیامبر و علی تربیت یافته بود و مورد نوازش خلفا قرار داشت مرد بزرگ در تاریخ بشر تبارز نمود، که عالم اسلام به کارنامه های آن جوان که از اهل بیت برخاست افتخار نموده و همه ساله از کارنامه های او به عنوان جوان رشید و رهبر حق و عدالت یاد مینمایند و قیام او را در برابر مظالم و مفاسد دوران ستایش مینمایند. ابو مسلم خراسانی جوان دیگر از اهل خراسان در برابر استبداد و ظلم قدعلم نمود و ندای آزادی و آزادیخواهی را در سرزمینهای تحت ستم بلند نمود، حتی در زمان خلافت عثمانیها به جوانان که از ملت های غیر مسلمان بودند توجه عمیق مبذول میگردید آنها در مدارس و مکاتب خلافت تحت تربیه قرار میدادند، اصول دین و مضامین اسلامی را معلمین که برخاسته و برداشته از قانون اسلامی بودند تدریس مینمودند، حتی غلامان که از میدان جنگ آورده میشدند بعد از فراگیری علوم اسلامی در مدارس خلافت آزاد میشدند و در وظایف مهم حکومتی تقرر میافتند. این قشر پویا و متحرک که حیثیت ماشین تحولات را در حیات سیاسی و فرهنگی انسانیت دارند در بستر تاریخ بشر تمدن آفریده اند. فرهنگ ها را با هم آمیخته اند، علوم را رونق داده اند، از حقوق مظلومان در برابر حاکمان و ستم گران دفاع نموده اند. طوریکه قبلاً یاد نمودیم قیام جوانان در ممالک اسلامی در برابر هجوم فرهنگ سیکولاریستی و کمونیستی و پدیده های کفری سبب شد تا جوانان ناآگاه و زیر ستم که استعمار آنها را در هر سرزمینی استحمار نموده بود نجات دهند و تمدن جدید را که در آن فرهنگ انسانیت مطرح بود به توده های تاریک و متوحش به ارمغان بیآورند، با قبول شهادت و تحمل رنج های بیکران جوانان مسلمان بود که آهنگ دفاع از حقوق انسان و توجه به حالت انسانیت که از اثر کفر گرایی و اعتقادات نامیمون و ضد اسلامی پدیدار شده بود نجات دهند. جوانان یکبار دیگر از هیولای بیدانشی بطرف دنیای علم و دانش بکشانند، جوانان مسلمان در پیشاپیش این تموجات و تحولات قرار گرفتند که سال های اخیر قرن نزدهم و اوایل قرن بیستم را میتوانیم ذکر نمائیم. زمانیکه جامعه مدنی در عرصه تحولات جهانی جایگاهی سیاسی خود را پیدا نمود و منحیث یک قوه بازدارنده حکومت ها عرض اندام نمود. جوامع مدنی با استفاده از جوانان آگاه انقلابی باعث ممانعت با سیطره و بیعدالتی گردیدند. منظور ما از جوامع مدنی لیبرال به سبک اروپایی آن نیست بلکه جامعۀ است که عنصر اصلی آنرا جوان مسلمان آگاه از احکام و فلسفه دین و مفاهیم آن تشکیل میدهد اینها اند که نابسامانیها و ناهنجاریهای آنرا به اساس بینش اسلامی خوبش تشخیص میدهند و در راه علاج امراض روحی و جسمی آن جامعه همچو طبیب حازق عمل مینمایند. جامعه را ما وقتی جامعه مدنی اسلامی مینامیم که تکامل آن به اساس ارزش های دینی در حوزه های ساختار فکر دینی صورت گرفته باشد و اخلاق محور و زیور تهذیب و تمدن در حوزه های نیل، دجله، سیحون، سندو رود، یوانکهو چین، حوزه مدیترانه تا ظهور اسلام در جزیره العرب به حال بدوی در حیات ابتدائی اش قرار داشت، ولی بعد از فتوحات اسلامی و بسط قلمرو آن تغیر ناگهانی و کیفی در حیات تمدن بشری صورت گرفت که ما این موضوع را از کتاب (تمدن اسلام در عرب) بهتر میتوانیم تشخیص دهیم و در آثار ابن خلدون جامعه شناس معروف اسلامی در قرن هشتم هجری میتوانیم دریافت کنیم که جامعه اسلامی در آن نقش جوانان و فرهنگ متعال انسانی در جامعه اسلامی چه تأثیر بسزایی دارد، همۀ کتب فرهنگ و تمدن که حیات بشری را در دوره های مختلف تاریخ مورد ارزیابی قرار داده است، تمدن بشری را خارج از میراث فرهنگی اسلامی و تأثیرات آن در تمدن انسانی ندانسته اند. اصلاً خلافت آدم بر روی زمین خود نشانه ابتدائی زندگی بشر و زیربنای اصلی فکر مدنیت گرایی انسان است. زمانیکه انسان بالای کره خاکی پا گذاشت بگفته ارسطو از اینکه انسان بالطبع مدنی خلق شده به حکم فطرت برای بقای خویش با محیط برای ادامه حیات روزمره که بعد از هبوط اش بروی زمین لازم بود تا طریقه خورد و نوش، مسکن و لباس خود را بیآموزد که قرآن شریف در مورد هبوط انسان به زمین در اولین ارشاد قرآنی موضوع غذا و لباس را در جنت قبلاً برای انسان یادآور شده است. اولین تأکید در پوشیدن لباس (ستر عورت) مرد و زن صورت گرفته است ثانیاً مسئله تأمین معیشت و تلاش برای غذا که ضرورت بدن انسان را تشکیل میکنند تاکید شده است که ما از لابلای این ارشادات که مبانی تشکل زندگی بدوی انسان را دربر میگیرد استنباط مینمائیم که خلیفه زمین با علم که خدا برایش بخاطر حاکمیت بالای زمین و استفاده از منابع داده بود هر قدم را که میگذاشت آرام، آرام بطرف یک انسان متکامل تغییر زندگی میداد. بلی انسانهای بدوی که اکثراً در اطراف دریاها زیست مینمودند، جهت استفاده شان از حیوانات و دفاع از خود ضرورت به وسایل احساس مینمودند تا بوسیلۀ آن بتوانند حیوانات را شکار نموده و همچنان از شر دشمن محافظت کنند، که ما اولین قدم انسان بطرف تمدن دوره حجر و یا مغاره نشینی ها را میتوانیم مثال بدهیم طوریکه از زوایایی مختلف تاریخ تمدن بشری دیده می شود در ساخت و ساز و تشکل جامعه بدوی مدنی جوانان سهم بزرگ و فعال داشته اند.

گرچه یک مقدار از اصل موضوع خارج شدیم بخاطر اینکه بتوانیم در مورد انسان اولی که به حکم فطرت حنیف و دین گرا و عقیده بخدا داشته است اشاره کنیم به همین دلیل ما از حضرت آدم علیه السلام که خلیفه خدا در روی زمین بود یادآور شدیم، که بخاطر عبادت و معرفت ذات، تطبیق احکامش مکلف گردیده بود. تا این جا که گفته آمدیم اصلاً ما نقش جوان مسلمان را در جامعه اسلامی بحث مینمائیم. از اینکه نمیتوانیم همه مبانی و اهداف و نقش آفرینی های جوانان مسلمان را در چند سطر خلاصه کنیم با وصف آن جوان مسلمان در یک جامعه که آنرا امت اسلامی میگویند مکلف است تا مطابق روش پیامبر، خلفا بادرنظر داشت مبانی فکری و مکتب دینی را که آنها گذاشتند در روشنایی آن مکتب، دین، اخلاق، علم، فرهنگ اصیل و زیبایی اسلامی است خود را به آن ملبس نمایند و یا مقایسه با جوامع متمدن امروزی که اکثراً از سیطره نظام الهی بطرف وحشت و بربریت رفته اند اسلام عزیز را نخستین منبع تهذیب و تمدن انسانی بشناسند و نقش فعال و ارزنده خود را که همانا نجات انسان که امروز هدف اصلی خویش را در دنیای موهومات و تخیلات و غرایز نفسانی گم کرده است سبب نجات آنها شوند.

قرآن شریف در مورد جوانان که بنام اصحاب کهف از آنها یاد نموده .....

ادامه دارد

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

په افغانستان کې د ولسمشر اوباما پاليسۍ ناکامې شوې

د ستارت فورت کامینتري خپروني د افغانستان د اوبو او انرژۍ د وزير اسمعيل خان له خوا د مجاهدينو د يو شورا د جوړيدو هڅو ته اشاره کړې ده.

خپرونه وايي، د نومبر پر پنځمه نيټه، د افغانستان د ملي شورا يو شمېر غړيو اسمعيل خان باندې د هغو هڅو له کبله انتقادونه وکړل، چې ويل کيږي نوموړي يې د مجاهدينو د شورا تر مشرتوب لاندې د مليشو د جوړولو لپاره کوي. د خپرونې په وينا د دې مليشې د جوړولو هدف دا دی، چې له ۲۰۱۴ م کال وروسته چې بهرني سرتيري له افغانستان څخه ووځي نو دوي به له وسلوالو طالبانوسره مبارزه وکړي.

خپرونې وړاندې ليکلي دي، په همدې ورخ په پاکستان کې د طالبانو ضد يو مهم سياسي ګوند اعلان وکړ، چې دوي د افغانستان او پاکستان د حکومتونو د افراطي مخالفانو پر ضد د ملي رايي د راټولولو هڅه کوي.

خپرونه وايي، په دې رايي ټولونه يا ټولپوښتنه کې به له خلکو وغوښتل شي چې دوي يو سيکولر مسلمان هيواد غواړي او يا يو داسې حکومت غواړي چې تر ډېره د طالبانو د اهدافو سره سم وي.

ستراټ فور کامينتري وايي، په افغانستان او پاکستان کې د طالبانو مخالفان له افغانستان څخه د ناټو د سرتيرو له وتنې وروسته پر خپلو حکومتونو دا باور نه لري چې د طالبانو مخه به ونيولی شي.

خپرونه زياتوي، افغانستان د ملي شورا هغه غړي چې د افغانستان د اوبو او انرژۍ پر وزير انتقاد کوي وايي، چې د غيرې رسمي مليشو جوړول د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته کورنۍ جګړې ته لاره هواروي.

د جنګ او سولې انسټيټوټ په يو راپور کې د امريکا د ولسمشر په توګه د بارک اوباما د بيا انتخابيدو په اړه د افغان څېړونکي نظرونه خپاره کړي دي او وايي، چې د اوباما په بيا انتخابيدو د افغان څېړونکو په منځ کې نوموړې ته مبارکی کمې او انتقادونه زيات دي.

په راپور کې د افغانستان د ښځو د ټولنې د مشرې فتانه ګيلاني له خولې په افغانستان کې د ولسمشر بارک اوباما د لومړۍ دورې څېنو ناکامۍ داسې په ګوته شوي.

فتانه ګيلاني وايي، اوباما په افغانستان کې د لويو مثبتو بدلونونو خبرې کولې، خو په تيرو څلورو کلونو کې د افغانانو لپاره يو وړوکی بدلون هم ونه ليدل شو.

ګيلاني وايي، جګړه روانه ده، د تارياکو توليد زيات شوی، تر يو ميليون زيات افغانان په نشه يي موادو روږدي دي، بيا رغونې او د افغانستان د اقتصاد لپاره هيڅ پاملرنه نه ده شوې. د ښځو لپاره شرايط تر هغې بدتره شوي چې څلور کاله دمخه وو.

د سولې او جنګ انسټيټوټ په راپور کې ويل شوي، زه له همدې کبله وايم چې په افغانستان کې د ولسمشر اوباما پاليسي ناکامې شوې دي.

د حق او عدالت د ګوند مرستيال معين مرستيال چې دا ګوند د حکومت د اپوزيسون په توګه د تير کال راهيسې راپورته شوی بيا تر ټولو مهم انتقاد د طالبانو سره د خبرو په برخه کې د امريکا په پاليسی دی او دا چې د افغان امنيتي ځواکونو په ښه روزنه او تجهيز کې پاتې راغلي.

د سياسي چارو يو بل کارپوه احمد سعيدي د جنګ او سولې د انسټيټوټ راپور ليکونکي ته ويلي د ولسمشر بارک اوباما پاليسی څکه په افغانستان کې بريالی نه وې چې د بارک اوباما او د هغه د مرستيال جوبايډن نظر د ولسمشر کرزي سره توپير لري، او د دې دواړو لورو ترمنځ اړيکې په دې ورستيو کې ښې نه وې.

حقاني شبکه د طالبانو په مشرۍ ...

کې يې مرکزونه دي، وايي دوي د طالبانو برخه دي او د سولې په هر بهير کې بايد فعاله ونډه ولري. امريکا بيا حقاني شبکه له طالبانو بيله ګڼي. افغان حکومت بيا وايي چې له دې ډلې سره خبرې نه شي کيداې.

د ولسمشر کرزي وياند ايمل فيضي تيره اونی وويل، د حقاني شبکه په هغو شرايطو سمه نه ده چې د سولې خبرې ورسره وشي.

د دې شبکې قوماندان چې د نوم له څرګندونو ډډه کړې متحد اياالتونه ملامت کړل چې د سولې په هڅو کې صادق نه دي او هڅه کوي چې د دوي په منځ کې بيلتون پيدا کړي.

د حقاني ډلې دغه قوماندان رويټرز اژانس ته له يوه نامعلومه ځايه په ټيلفون وويل، که چېرته د طالبانو د مشر ملامحمد عمر په مشرۍ د کوټې شورا پريکړه وکړي، چې له امريکا سره خبرې وکړي نو موږ يې هم هرکلي کوو.

طالبانو په پسرلي کې ويلي وو چې دوی له امريکا سره د سولې خبرې ځنډوي. يو افغان چارواکي چې د سولې په هڅو کې يې فعاله برخه لرله، تيره اونی وويل، افغان حکومت په دې کې پاتې راغلي دي چې له طالبانو سره مستقيمې خبرې وکړي او تر دوه زره څوارلسم کال پورې د سولې په خبرو کې د پام وړ پرمختګ هيله هم نه شته.

د امريکا له لورې په تور لست کې د حقاني شبکې شامليدو ته د دې ډلې قوماندان اشاره وکړه چې له دې دا معلوميږي چې واشنګټن په افغانستان کې د سولې خبرو ته زړه نه ښه کوي.

به زودی تمام جایداد های کابل ...

یک اداره، رسمی امارات متحده، عربی به لیلام گذاشته خواهند شد:

"یک هیات که همین حالا در دوبی است، قرار است تمام جایداد های کابل بانک را به یک اداره، رسمی امارات به نام اداره، زمین که در دوبی موقعیت دارد، تحت یک قرارداد واگذار کند.

تا این اداره تمام این جایداد ها را به یک باره گی لیلام کند و ما انشاالله در مدت دو یا سه هفته تمام جایداد ها در دوبی را تمام می کنیم."

آقای دلاوری مشخص نساخت که جایداد های کابل بانک در شهر دوبی چقدر ارزش دارد.

اما پیش از این برخی از رسانه های بین المللی به نقل از وی گزارش دادند که عمده ترین جایداد های این بانک که تعداد شان به هشت می رسد در (پام جمیره،) دوبی موقعیت دارند و ارزش مجموعی آن به بیش از ۳۰ ملیون دالر می رسد.

رییس دافغانستان بانک همچنان گفته است تا اکنون سه حویلی که از پول کابل بانک در دوبی خریداری شده بود، به فروش رسیده و بالای مالکیت سه حویلی دیگر این بانک منازعه جریان دارد.

نورالله دلاوری به روز سه شنبه در کابل به خبرنگاران گفت که جایداد های کابل بانک در داخل افغانستان نیز به زودی به فروش خواهند رسید.

آقای دلاوری در عین حال از تلاش ها به هدف فروش این بانک به سکتور خصوصی نیز خبرداد:

"کابل بانک نو یا نوی کابل بانک امروز در حال خصوصی سازی است.

پس از این نشست خبری من در یک کنفرانسی اشتراک می کنم که امید است در آن خریداران بین المللی هم حضور داشته باشند.

قرار است به زودی کابل بانک نو خصوص گردد و امیدواریم که یک بانک خوب تر به وجود بیاید."

با آنکه حکومت افغانستان تعهد فروش جایداد های تثبیت شده، کابل بانک را نموده، اما به اساس گزارش ها با فروش این جایداد ها هم تمام پول های این بانک به دست نخواهد آمد.

پیش از این مقام های ریاست جمهوری افغانستان گفته اند که تمام جایداد های کابل بانک در داخل و خارج از کشور ۱۸۵ ملیون دالر ارزش دارد.

به گفته مقام ها، بالای نصف پول های از دست رفته، این بانک یعنی حدود ۵۰۰ ملیون دالر منازعه جریان دارد و کسی حاضر نیست مسوولیت آن را بگیرد.

آنان گفته اند که تا حالا از این میان ۱۳۸ ملیون دالر نقد به دست آمده و ۲۱۸ ملیون دالر دیگر تثبیت شده است.

ایران ته تلونکو افغانانو ته ...

د ترانسپورټ وزارت وياند تنګيالي قلاتوال د سې شنبې په ورځ ازادۍ راډيو ته وويل، چې د ايران دا ډول کړنې په هيواد کې د هوانوردۍ د قوانينو او اصولو پر خلاف عمل دی.

تر دې يوه ورځ مخکې د وزيرانو شورا هم په دې مسله خبرې وکړې چې بايد د بهرنيو هوايي شرکتونو د ټکټونو قيمتونه کنترول شي، او د هغو شرکتونو مخه هم ونيول شي چې يو خاص سفارت ته کار کوي.

په دې غونډه کې د بهرنيو چارو وزارت ته دنده وسپارل شوه څو دا ستونزه حل کړي او په کابل کې له ټولو هغو سفارتونو سره خبرې وکړي چې دا ډول لاره يې خپله کړې.

ويل کيږي، چې ايران د ويزې ورکولو پر مهال د آسمان او ماهان په نامه شرکتونو ټکټ غواړي چې د يو شمير خلکو په وينا ددې شرکتونو ټکټونه ډيره لوړه بيه لري.

يو شمېر افغانانو چې په کابل کې د ايران سفارت مخې ته د ويزې اخيستلو لپاره راغلي وو آزادۍ راډيو ته وويل چې ددې شرکتونو د ټکټ بيه له کابل نه تر ايرانه پنځه ويشت زره افغانۍ ده:

"موږ ته وايي، چې تاسو بايد ټکټ صرف له دوه هوايي شرکتونو نه واخلی چې يو يې آسمان او بل يې ماهان دی، د هغو شرکتونو د ټکټ بيې ډيرې لوړې دي مونږ ته وايي چې لاړ شي او له هغه ځای نه ټکټ واخلی.

هو همدا يې شرط دی چې بايد له بل شرکت نه ټکټ وانخلو که يې له بل شرکت نه واخلو نو نه يې مني."

د افغانستان د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت خبرداری ورکوي که ثابته شي چې د آسمان او ماهان تر نامه لاندې هوايي شرکتونو د هيواد د هوانوردۍ له قوانينو سرغړونه کړې نو قانوني چلند به ورسره وشي.

خو په کابل کې د ايران سفارت بيا دا مسله ردوي او وايي چې ډېر شمير خلک ددې لپاره له دغو شرکتونو ټکټ اخلي چې دوی په اوونۍ کې ډېر پروازونه لري.

د ايران سفارت يوه مسوول ښاغلي امين آزادۍ راډيو ته وويل چې دوی په مسافرينو د ټکټ اخيستلو پر مهال هيڅ ډول فشار نه راولي:

"هغه مسافرين چې ايران ته روان دي هيڅ ډول فشار نه ورباندې راوستل کيږي، هغوی کولی شي له هر شرکت نه يې چې زړه غوښتي وي ټکټ واخلي.

د ويزې اخيستلو لپاره په هيڅ فشار نه راوستل کيږي. اسمان او ماهان هغه شرکتونه دي چې په هره اوونۍ کې ايران ته ډير پروازونه لري نو څکه ډير خلک ورځي.

هيڅ ډول شرط په چا باندې نه لګول چې له کوم شرکت نه ټکټ واخلي".

ويل کيږي، چې له ايران نه د کډوالو را ايستل يوه بله ستونزه ده چې پدې هيواد کې يې ډير شمير افغانان له ستونزو سره مخامخ کړي دي.

د رپوټونو له مخې دا مهال يو ميلون افغانان په ايران کې د کډوالۍ شپې او ورځې سبا کوي، چې ويل کيږي ډير شمير يې ددې لپاره له غير قانوني لارو په قاچاقي توګه سفر کوي چې د ويزې اخيستلو پر مهال له ګڼ شمير ستونزو سره مخامخ کيږي.

پلويان مې بايد د بهرنيو ځواکونو ...

د اوبو او برېښنا وزير محمد اسمعيل تيره اونی په کابل کې خبري کنفرانس ته وويل:

"موږ په افغانستان کې د امنيت ټينګولو مسوليت لرو او افغانستان يو وار بيا بربادی ته نه شو پرېښودلای."

په ولسي جرګه کې د هرات د خلکو يو وکيل او پخوانی جهادي قوماندان ، محمد نذير حنيفي په افغانستان کې د پخوانيو مجاهدينو د فعاليت د ضرورت په اړه ازادي راډيو ته وايي:

"په دې کې هيڅ شک نشته چې که ټول مجاهدين په يو والي سره را ټول نشي، نو د افغانستان دښمنان به ګډوډۍ رامنځ ته کړي او مصيبت به راپيښ کړي."

نيويارک ټايمز وايي، چې جمهور ريس حامد کرزي او د هغه پلويانو د پخوانيو مجاهدينو د بيا تنظيم او تجهيز د نظر ملاتړ نه دی کړی.

د هرات والي د محمد اسمعيل نظر رد کړی، غير قانوني يې بللی او وايي، چې د افغانستان ملي ځواکونه د ستونزو سره مخامخ کوي.

د جمهور ريس وياند ايمل فيضي هم د اوبو او برېښنا پر وزير سخت انتقاد وکړ او ويې ويل:

"د محمد اسمعيل دا خبرې د افغانستان د حکومت تګ لاره نه څرګندوي.

د افغانستان حکومت او خلک د دې هيواد د قانوني امنيتي ځواکونو له چوکاټه دباندې، د هيڅ ډول غير مسولو وسله والو ډلو رامنځ ته کيدل نه غواړي."

خو په خپله محمد اسمعيل په کابل کې خبريالانو ته وويل، چې د ده له خبرو څخه ناسم تعبير اخيستل شوی دی.

په افغانستان کې د جهادي شورا د تشکيل په ارتباط د محمد اسمعيل خبرو په مطبوعاتو کې پراخ انعکاس وکړ.

د افغانستان د ملي شورا يو شمير غړو حتی وويل ، چې پخواني جنګ سالاران هڅه کوي، چې د بهرنيو ځواکونو د وتلو څخه د ځان لپاره ناوړه ګټه وکړي، د فراه يوې وکيلې بلقيس روشان نيويارک ټايمز ته وويل:

"دوی فکر کوي، چې له افغانستانه د نړيوالو ځواکونو د وتلو سره سم به يو وار بيا د کورنۍ جګړې د پيل موقع پيدا کړي او خپلو دې اهدافو ته به ورسيږي،چې د سيميزو رقيبانو څپل او د پيسو ټولول دي."

خو د نيويارک ټايمز په حواله، دا يوازې د کابينې غړی محمد اسمعيل نه دی، چې د طالبانو پرضد يې د مجاهدينو د بيا منسجميدو وړانديز کړی.

ورځپاڼه ليکي، چې ځيني نور پيژندل شوي کسان هم شته چې دا خبرې کوي.

د بيلګې په ډول، د ولسمشر لومړي مرستيال محمد قسيم فهيم د سپتمبر په مياشت کې ويلي وو : "که افغان امنيتي ځواکونه د دې جګړې د ترسره کولو جوګه نه وي، نو بيا پر مجاهدينو ږغ وکړی ".

د مجاهدينو يوه بل پيژندل شوي څېرې احمد ضيا مسعود نيويارک ټايمز ته ويلي، چې د افغانستان خلک تر ۲۰۱۴ کال وروسته د وضعيت د څرنګوالي په اړه انديښنه لري، نو خپلو پلويانو ته يې ويلي چې مقدماتي ترتيبات ونيسي، ضيا مسعود ويلي: "هغوی نه غواړي چې بيا تحقير شي، هرڅوک د دوهم پلان په جوړولو غور کوي، يو شمير کسان د مسلح کيدو په درشل کې دي ".

ښاغلی مسعود د نيويارک ټايمز ورځپاڼې ته ويلي، چې په وروستيو کې د يوه کلاشينکوف بيه چې تير کال درې سوه ډالره وه، زرو ډالرو ته لوړه شوې، چې د تقاضا موجوديت څرګندوي د ضيا مسعود په وينا ، هر څوک غواړي چې په کور کې يو کلاشينکوف ولري، ضيا مسعود زياته کړې:

"مجاهدين راته راځي چې راسره وګوري او وايي چې تياري نيسي اود وسلو موندلوهڅې کوي.

د افغانستان په شمال کې د کليو او ولسواليو خلک، حتی د کابل د شاوخوا سيمو اوسيدونکي راته راځي او وايي چې په خپلو سيمو کې د امنيت ټينګولو مسوليت خپله اخلي ".

نيويارک ټايمزليکي، د افغان حکومت او غربي دولتونو تر پولسيزې هڅو وروسته، بيا هم د جنګ سالارانو د بيا راپيدا کيدو ويره موجوده ده.

نيويارک ټايمز ليکي: د افغانستان د حکومت نړيوال متحدين هڅه کوي چې پدې هيواد کې د ۹۲ کلونو د کورنۍ جګړې د بيا تکرار مخنيوی وشي.

د ورځپاڼې په وينا ، د کورنۍ جګړې پيښيدل به په افغانستان کې د غربيانو په مټ شوي پرمختګونه په اوبو لاهو کړي.

عکس العمل مشرانو جرگه در ...

گاه افراد داخلی کشور در مورد انتخابات مرتکب اشتباه یا خیانت شوند آنها مورد تعقیب و پیگری قرار می گیرند، اما اگر خارجی ها مرتکب خیانت شوند آنها را کی محکمه می نماید. من موجودیت خارجی ها را در انتخابات افغانستان به کلی رد می نمایم."

ولسی جرگه، افغانستان قبلاً طرح قانون صلاحیت و تشکیلات کمسیون انتخابات را تصویب کرده است. به اساس این طرح، کمسیون سمع شکایات دایمی بوده و در چوکات کمسیون انتخابات فعالیت می نماید و ۷ عضو دارد که دو تن آنها خارجی می باشند.

در این طرح آمده است دو کارمند خارجی باید از سوی سازمان ملل متحد به هدف نظارت از روند انتخابات بر گزیده شود.

در همین حال برخی دیگر از اعضای مشرانوجرگه با موقت و دایمی بودن کمسیون سمع شکایات انتخالاتی نظریات مختلف ارایه کردند.

برخی از این سناتوران به موجودیت موقتی بودن این کمسیون نظر دادند و آن را به نفع انتخابات آینده افغانستان دانستند.

د کورنيو چارو وزارت د عبدالحکيم ...

څخه په تنګ شوي اود شکايتونو لپاره له څو ورځو را په دې خوا کابل ته راغلي.

دوي د ولسي جرګې د شکايتونو داوريدو کميسيون په غونډه کې وويل، که حکومت د شجاعی په نيولو کې پاتې راشي نو دوی مجبور دي چې له وسله والو طالبانو سره يوځای شي.

د ولسي جرګې د شکايتونو د اوريدو کميسيون مشر عبيدالله بارکزي ازادي راډيو ته ويلي چې شجاعي د ولسمشر د دويم مرستيال په سپارښتنه خوشې شوی دی.

خو د ولسمشر کرزي د دويم مرستيال کريم خليلي دفتر دغه تورونه بې اساسه وبلل.

حکيم شجاعي د غزني ولايت د مالستان ولسوالی اوسيدونکی دی چې د ارزګانيانو په خبره دامهال په ارزګان کې اوه امنيتي پوستې لري.

شهادت اونيزه
دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتياز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدير عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير عبدالخليل (خليل)

د اړيکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلي کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ديزاين خواجه وحيدالله | آدرس د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سلو نه مخامخ خوشحال خان مېنه ، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com